# د عبدالرؤف زاهد پۀ شاعرۍ کښې د محاورې عکس

## The reflection of idioms in the poetry of Abdul Rauf Zahid

Lal Badshah*

Dr Shakeel Ahmad

**Abstract:**

Poetry is a Universal Phenomenon. Every nation & around the globe is represented mostly by their poets. Similarly Pashto society is mainly is characterized by its poets. Amongst them one is Mr. Abd Ur Rauf Zahid belongs to Mardan District. Who remained to have a specialty in the field of Pashto poetry. He has the specialty to use different Pashto genres like idioms in his poetry. The proper use of idioms in poetry is characteristic of Zahid's poetry. With its appropriate and indiscriminate use, the taste and color of his poetry has been further enhanced, which makes the readers' hearts flutter. This very aspect of his poetry will be discussed and analyzed in this research article.

**Key Words:** represented, mainly, genres, idioms, characterized

د ښاغلي زاهد په شاعرۍ کښې که يو اړخ ته د صنعت ارسال المثل، صنعت تلميح او د داسې نورو صنعتونو په اړه شاعري موندے شي نو ښاغلي زاهد د خپلې استاکارۍ په زور د پښتو ډېرې محاورې هم په خپله شاعرۍ کښې راوړي دي. د ښاغلي زاهد په شاعرۍ کښې د پښتو محاورې رابرسېره کؤلو نه وراندې ددې خبرې ضرورت دے چې د محاورې پېژندنه وشي چې محاوره څه ته وائي.

محاوره زمونږه هغه روزمره خبرو اترو ته وئيلے شي په کومو کښې چې د حقيقي خبرو په ځاے مجازي جملې راوړې شوي وي. محاوره به خامخا مجازي وي. مونږه هرې يوې محاورې ته روزمره وئيلے شو خو هرې يوې روزمرې ته محاوره نۀ شو وئيلے. محاوره هم روزمره وي خو لفظونه ئې په مجازي معنو کښې استعمال شوي وي. هره محاوره، روزمره وي خو هره روزمره، محاوره نۀ وي.

* Ph.D Scholar Department of Pashto U.O.P

پروفېسر فضل میر خټک په خپل ,, فضلیات کښې د محاورې او روزمرې د فرق په حقله لیکي چې:

'' په محاوره او روزمره کښې غټ فرق دا دے چې روزمره وسیع تر مفهوم لري او محاوره محدوده وي. ځکه د محاورې نه مراد هغه افعال دي چې د بل فعل یا اسم سره یو ځاے شي او د حقیقي معنی په ځاے مجازي مراد ولري ، لکه اوبۀ څښل محاوره نۀ ده ، اوښکې څښل محاوره ده. داسې ډوډۍ خوړل محاوره نۀ ده ولې غم خوړل، سوګند خوړل، دوکه خوړل محاوره ده '' [1]

په روزمره کښې د ضرورت تر مخه د بدلون ګنجائش شته خو په محاوره کښې دغه ګنجائش نشته چې په هغې کښې د خپلې خوښې بدلون وشي. د محاورې دغه لوے خصوصیت دے چې هغه به مجازي وي. لۀ سترګو پرېوتل یا لۀ نظره پرېوتل محاوره ده خو لۀ چت نه پرېوتل روزمره ده.

د ډاکټر صلاح الدین سلطان مطابق:

*"محاورے کا اطلاق خاص کر ان افعال پر ہوتا ہے جو کسی اسم کیساتھ مل کر اپنے حقیقی معنوں کے بجائے مجازی معنوں میں استعمال ہوتے ہیں. جیسے (اتارنا) کے حقیقی معنی کسی شے کو اوپر سے نیچے لانے کے ہیں، مثلاً بچے کو سائیکل سے نیچے اتارنا، جہاز سے مسافروں کو اتارنا وغیرہ۔ ان میں سے کسی کو محاورہ قرار نہیں دیا جا سکتا۔ کیونکہ ان میں (اتارنا) حقیقی معنوں میں استعمال ہوا ہے. لیکن شیشے میں اتارنا اور دل سے اتارنا محاورات ہے، کیونکہ یہاں (اتارنا) مجازی معنوں میں استعمال ہوا ہے"* [2]

د یوې ژبې په ترقۍ، خورۀلو او مخ په وړاندې بوتلو دپاره د محاورې ضرورت لۀ چانه پټ نۀ دے. محاوره د ژبې ښکلا ده۔ د ژبې کالے دے، محاوره چې په شعر کښې راوړے شي د شعر ښکلا پرې نوره هم زیاته شي.

د پښتو محاورې دي چې ,, کفرۍ کښې وینې څښل ، نمر ته چراغونه نیول ,, او ښاغلي زاهد صېب خپله شاعرۍ کښې څه په دې ډول راوړي دي :

خبــــر د ے رقیــــب دې زمـــــا بـــــده وائــــــي
ډېـــــر خلـــــق نمــــر تــــه چراغونــــه نیســــي

ســــاقي انســــان یــــم پــــه انســــان مئــــین یــــم
پـــه کفــری کښــې د چــا وینــې نــهٔ څښــم [3]

په وړومبي شعر کښې نمر ته د چراغونو نیولو خبره شوې ده ، نمر ته چراغ نیول یوه مجازي جمله ده . په حقیقت کښې څوک نمر ته چراغ نهٔ نیسي او نهٔ نمر په ګوته پټېږي . دا محاوره په داسې وخت کښې پکارؤلے شي چې په یو ځائے کښې د یو شریف او ښهٔ انسان بده وئیلے کېږي. هغه پسې خبرې کېږي، د هغهٔ د شهرت راکمولو کوششونه کېږي . ښاغلي شاعر داسې وئیلي دي که رقیب زما ډېره بده هم ووائي، خبر دے، په دې خبرو زما پروا نشته. کهٔ څوک نمر ته چراغونه نیسي نو بې فائدې او بې ځایه به وي۔

دوېم شعر کښې ښاغلے شاعر وائي چې زهٔ یو انسان یم ـ په انسانیت مئېن یم . چاسره ظلم زیاتې نهٔ کؤمه. په دې شعر تاسو د محاورې پېژندنه وکړه چې په مجازي معنو کښې راغلې ده ځکه چې څوک هم په کفرۍ کښې وینې نهٔ څښي. دا محاورې په داسې وخت کښې پکارؤلے شي چې یو انسان بل انسان ته ډېر زیات غصه وي. لهٔ ډېرې غصې په حالت کښې ئې لهٔ خولې دا جمله ووځي چې زهٔ به د فلانکي په کفرۍ/ککرۍ کښې وینې وڅښم۔

د پښتو محاورې دي، په زړهٔ لمبې بلؤل، د پنجو په سر ګرځېدل، د زړهٔ غوښې/وازدې اوبهٔ کېدل او د ښاغلي زاهد صېب دا شعرونه :

رانــــــه کــــوې چـــــې د رقیـــــب پوښــــتنه
هســــې پـــــه زړهٔ مــــې لمبـــــې مـــــه بلــــوه

د محــــل خــــوا کښــــې ځــــې د پنجــــو پــــه ســــر
بــــاده خنــــدا دې پــــه ډیــــوو پــــورې شــــي

زاهــد د پنجــو پــه ســر ځــي د پېمــانو لــوري لــه
ورســـره څـــومره د ســـاقي د وېښـــېدو ویـــره ده

تــهٔ زمــا د تــریخ ژونــدون ملګــرے نــه شــوے
کــهٔ مــې وازدې د زړهٔ تاپســې اوبــهٔ شــوې [4]

پـه وړومبي شـعر کښې د جانـان لـهٔ خلې د رقیب پوښـتنه شـوې ده. د شـاعر مطلب دادے کهٔ چرې تهٔ لهٔ مانه د رقیب پوښتنه کوې ، داسې شوه چې زما په زړهٔ اور بلوې ، یعنې ما خفه کوې یا ما غصه کوې .

په دوېم شعر کښې د پنجو په سر د تلو خبره شوې ده. د پنجو په سر تلل یا ګرځېدل یا خو د ډېر غرور اظهار دے یا په خاموشۍ سره د تلو راتلو علامت دے. چې څوک د چا پـه تلو راتلو پوهه نهٔ شي. په دې شعر کښې طبقاتي نظام ته اشاره شوې ده. د محل والو د غـرور خبره شوې ده. شاعر مخاطب دے چې تـهٔ خو د خپـل غـرور پـه نشـه کښـې د محلونـو پـه خـوا کښې د پنجو په سر روان ئې خو ددغـه محلونـو خوا کښې د چا جونګړې هم شته . پـه شعر کښې د باد یعني د تېزې سیلۍ ذکر شوے دے ، نو کهٔ دغـه طوفاني سیلۍ هر څومره پـه تېزۍ سره الووځي، د محلونو څه کؤلے نهٔ شي . البتـه پـه جونګړو کښـې بـه د بې وسو خلقـو ډیوې مړې کړي .

درېم شعر کښې د پنجو په سر تلل د ډېرې خاموشۍ د کېفیت خبره ده. مطلب ئې دا دے چې اے زاهده! تاسره د ساقي د راوینښېدو ډېره ویره ده چې ستا د پښـو پـه اواز راوینښ نهٔ شي ځکه نن دومره غلے غلے، خاموشه خاموشه د پنجو په سر روان ئې .

څلورم شعر کښې شاعر وئیلي دي چې زمـا د زړهٔ وازدې تاپسې اوبهٔ شوې ، یعنې زما د زړهٔ زور ډېر کم شو خو تـهٔ زمـا د تـریخ ژونـدون ، زمـا د بې قـراره زړهٔ ملګـرے جـوړ نـهٔ شوې.

د ښاغلي زاهد صیب په شعري مجموعه،، اعتبار ،، کښې راوړے شوې محاورې هم د ذکـر وړ دي . دا یـو څو شعرونـه وړانـدې کـؤل ضـروري ګـڼم چې ښـاغلي شـاعر څـومره پـه استاکارۍ سره دغـه محاورې د خپلې شاعرۍ ښکلا جوړه کړې ده .

ســـترګې کـــهٔ مـــې ســـتا انتظـــار ســـپینې کـــړې
بیـــا هـــم نیمـــه شـــپه ده ، پـــوره کېـــږي نـــا

مـاخو د سترګو تـور اوبـهٔ کړل چې مې زړهٔ سـپينوه
لـرې شـهٔ پـاتې چـې اشـنا فاصـله کمـه نـهٔ کـړه

زړهٔ مـې نـرے شـهٔ چـې دې وخنـدل خـو غلـے شـومه
د پښــتو کلـي کښــې خنـدا فاصـله کمـه نـهٔ کـړه

هســې خــو تيــارې ملګريــو نــهٔ دي رښـې شــوې
زړونــه ځينـــې خلــق بلــوي پــه زولنــو کښـــې

زمــــونږه زور بـــه کـــړي اوبـــهٔ ملګريـــــو
دريغــــه چـــې دا ښـــکلي لــــهٔ زوره ووځـــي[5]

په وړومبي شعر کښې په ,, انتظار سترګې سپينېدل ,, مجازي جمله ده ، محاوره ده. د انتظار لمحې ډېرې سختې وي هغه کهٔ د ورځې وي کهٔ د شپې وي. داسې کېفيت چې څوک د چا د راتلو په طمع وي ، لارې ته په حسرت حسرت ګوري . شپه نيمې تـه ورسي ، سترګې ويښې وي. لحظه لحظه لکه د هفتو او مياشتو په حساب تېرېږي خو پوره کېږي نه، سر ته نه رسي . په داسې حالت کښې د انتظار کوونکي لهٔ خلې داسې خبره ووځي چې په انتظار مې سترګې سپينې شوې.

دوېم شعر کښې د '' سترګو تـور اوبـهٔ کېدل ,, او ,, زړهٔ سپينؤل'' د پښتو محاورې دي. نهٔ خو په حقيقت کښې د سترګو تور اوبـهٔ کېږي او نـهٔ زړهٔ سپينېږي. مطلب ئې دا دے چې ما د خپل جانان سره د تعلق زياتولو يا د تعلق جاري ساتلو دپاره ډېر کوشش وکړو ، د ځان متعلق مې ورته خپل سپيناوے وکړو خو زما او د جانان ترمينځه فاصلې نزدې نهٔ شوې ، نورې هم زياتې شوې.

زړهٔ نرے کېدل د پښتو محاوره ده. په درېم شعر کښې شاعر وائي د پښتو خبره وه چې ستا په خندا ترمينځه فاصلې نزدې نهٔ شوې ، ګنې ستا د خندا سره زما زړهٔ نـرے شو ، يعنې زړهٔ کښې مې ترس راغلو ، خندا ته جوړ شو خو د خپلې پښتو سرته رسولو دپاره غلے شومه۔ خولهٔ مې خندا ته جوړه نهٔ شوه

څلورم شعر کښې ''تیارې رڼاول '' او ''په زولنو کښې زړونه بلؤل '' محاورې دي. په شعر کښې د پرله پسې کوششونو او د محنت خبره شوې ده. مطلب ئې دا دے چې تاسو ته چې دا کومې رناګانې ښکارې نو دا په خپله رڼا شوې نۀ دي. ددې په شا د ځینو خلقو قربانۍ په تاریخ کښې ژوندۍ دي . دغه خلق کۀ په قېد کښې دننه وي او کۀ لۀ قېده بهر ، هغوي د خپل اولس د پاره هرې قربانۍ ته چمتو ولاړ وي. دغه تورزن خلق، دغه اتلان په زولنو کښې هم د رڼا سندرې وائي .

پنځم شعر کښې ,, زور اوبۀ کېدل ,, ددې مطلب د مئینانو زړۀ چاؤدون دے. مئینان کۀ هر څومره د تکړه زړۀ خاوندان وي خو د ښکلیو د بیا بیا د ناز نخرو او د بې رخۍ په وجه د مئینانو زړونه کمزوري شي . ډېر مئینان د زړۀ په رنځ اخته شي خو د ښکلیو زوراو ناز نخرې نۀ کمېږي۔ نو ځکه شاعر د ښکلیو دغه خویونو ته اشاره کړې ده ـ وئیلي ئې دي چې ممکنه نۀ ده کۀ د ښکلیو د زړۀ زور ختم شي یا هغوي له خپله زوره ووځي خو زمونږه د زړونو زور به اوبۀ کړي . زړونه به مو کمزوري شي ، څه به په لاس را نۀ شي .

په شعري مجموعه ,,قیامتونه دي لمحې ,, کښې دا دوه شعرونه هم ډېر د قدر وړ دي.

راغے کۀ پښتنې له رقیب خو ستا ځواني ستائي
مالګې په پرهر مې دوړوې ، خبرې څۀ له کړې

خبر کۀ دې عقل ته زاهده یاران ګوتې نیسي
تۀ د وختونو طوفانونو ته ډیوې بلې کړه [6]

په دې شعرونو کښې '' په پرهر مالګې دوړؤل'' ''عقل ته ګوتې نیؤل '' او '' طوفانونو ته ډیوې بلؤل '' محاورې دي. په وړومبي شعر کښې دا خیال راوړے شوے دے کۀ چرې رقیب ستا تپوس له راغے هغه ستا د ښائیسته ځوانۍ ستائینه کوي۔ په تا مئین دے نو ځکه ماته دا خبرې مۀ کوه چې رقیب راغے او رقیب لاړو. دغه د رقیب راتلل دا سې دي لکه چې زما په پرهرونو مالګې دوړوي۔ ماله تکلیف راکوي .

په دوېم شعر کښې شاعر ځانته مخاطب دے چې کۀ چرې ستا یاران ستا په پوهه، عقل او خبره ټکونه کوي، ستا عقل او پوهې ته ګوته نیسي، سپک ورته ګوري بیا هم ستا

کار د وختونو طوفانونو ته ډېوې بلؤل دي . یعني ددغه حالاتو مقابله کؤل دي. د دوستانو یارانو په دغه عمل مهٔ خفه کېږه . تهٔ خپله رڼا خوروه ـ ډیوې بلې ساته ـ د خپل عقل او پوهې په ذریعه علم او پوهه خوروه .

د ښاغلي زاهد صېب په شاعرۍ کښې ځینې نورې د پښتو محاورې په لاس راغلي دي کومې چې مونږه په خپلو عامو خبرو کښې پکارؤ او ښاغلي زاهد صېب په خپله شاعرۍ کښې څهٔ په دې ډول راوړې دي .

د حــــق خبـــــره بانـــــدې پښــــه راکـــــاږي
ماتــــه ددې خلقـــــو ایمـــــان معلـــــوم دے

لهٔ زړهٔ دې ابستے ووم لهٔ ژونده دې اوس هم بهر کړم
د رقیب مخکښې نن چې تا مې په نوم کرښې راښکې

خلق دې زاهده په ایمان باندې اوس شک کوي
څومره موده وشوه چې قبلی ته دې شا کړې ده

وینې زما ئې په دېوال لکه اوبهٔ توې کړې
خدایه د رحم ئې اوبهٔ چرته په زړهٔ توې کړې [7]

په دې شعرونو کښې ''د حق په خبره پښه راښکل'' ''په نوم کرښه راښکل'' ''قبلی ته شا کؤل'' او ''په زړهٔ د رحم اوبهٔ تویؤل'' محاورې دي . په وړومبي شعر کښې وئیلے شوي دي چې ماته ددې خلقو ایمان معلوم دے، دوي حق پټوي ـ د حق په خبره پښې راکاږي، حق د پښو لاندې کوي. مطلب دا شو چې دا ځینې خلق د حق او رښتیاؤ ملګري نهٔ دي ـ د باطل ملګرتیا کوي.

دوېم شعر کښې شاعر محبوب ته مخاطب دے چې تاخو لهٔ وړاندې زهٔ د خپل زړهٔ نه بهر کړے وومه ـ اوس دې لهٔ ژونده هم بهر کړم چې زما د رقیب مخکښې دې زما په نوم کرښه راښکله یعني زما لیکلے نوم دې هم وران کړو ـ تعلقات دې مکمل ختم کړل .

درېيم شعر کښې شاعر په ځان طنز کوي. ځانته مخاطب دے چې خلق ستا په ايمان ځکه شکونه کوي چې لۀ ډېرې مودې نه تا قبلې ته شا کړې ده ـ مطلب دا شو چې د الله احکامات دې نظر انداز کړي دي. مونځ اودس نۀ کوې.

څلورم شعر کښې د محبوب زور ته اشاره شوې ده چې زما محبوب زما وينې لکه د اوبو په دېوال توې کړې. شاعر د خپل خدا ے نه سوال کوي. يا خدايا زما د جانان په زړۀ د رحم اوبۀ توې کړې. يعني زما د جانان په زړۀ کښې زما دپاره رحم پېدا کړې چې ما سره ښۀ سلوک شروع کړي.

د ښاغلي عبدالرؤف زاهد په شاعرۍ کښې د پښتو محاورې مختصر څېړنيز جاج لۀ نظره تېر شۀ. د محاورې باره کښې وئيلے شوي دي چې دا يوه نيمګړې جمله وي. محاوره د بلې يوې دا سې جملې محتاجه وي چې دغه محاوره په کښې په صحيح توګه راوړے شي. محاورې په مجازي معنو کښې استعمالېږي. هر کله چې دغه مجازي جمله په شعر کښې راوړے شي، نو د شعر ښکلا پرې ډېره زياته شي. غرض دا چې ښاغلي زاهد صېب په کومه شاعرۍ کښې د محاورې پکارؤنه کړې ده هغه ډېره د قدر وړ ده. دا قسمه شاعري د درس او تدريس غوره ذريعه وي. په شعر کښې لکه د نورو صنعتونو د محاورې راوړل په شاعرۍ کښې زور او ښائست زياتوي. دا يو هنر دے او ښاغلي زاهد صېب دغه هنر په ډېره احسنه طريقه سرته رسولے دے.

# حوالې


[1]. خټک ،فضل میر ، فضلیات ، پښتو ادبي اصطلاحات، حیات بُک ډپو مین بازار کرک، ۱۹۹۹ء، مخ ۳۷۳

[2]. ڈاکٹر صلاح الدین سلطان، محاورات اور ضرب الامثال،اردو بازار لاہور، س ن ، مخ ۷ ,

[3]. زاهد ، عبدالرؤف، پرخه، انعام پریس مردان ، ۱۹۸۰ء، مخونه ، ۱۲، ۲۳

[4]. زاهد ، عبدالرؤف، حادثې، انعام پرنټنګ پریس مردان، ۱۹۹۰ء, مخونه, ۲۳ ، ۹۳ ، ۹۵ ، ۱۰۱

[5]. زاهد ، عبدالرؤف ، اعتبار ، پښتونخوا چاپ ځاے ، جولائي ۲۰۰۴ء ، مخونه ، ۱۵، ۲۲ ، ۲۹ ، ۲۱،

[6]. زاهد ، عبدالرؤف، قیامتونه دي لمحې، انعام پرنټنګ پریس مردان ۱۹۹۲ء ، مخونه ، ۷۲ ، ۹۲

[7]. زاهد ، عبدالرؤف ، زېرے ، ډائمنډ پریس، جنوري ۲۰۱۵ء ، مخونه ، ۳۸ ، ۱۴۳ ، ۱۴۵

**Refrences**

1 Khattak, Fazal mir, fazliyat, da pakhto adabi estelahat, hayat book Dapo, main bazar karak, 1999, makh 373

2 Sultan, Salah uddin, doctor, mohawerat aor zarb ulamsal, urdu bazar lahore, makh 7

3 Zahid, abd UK Rauf, parkha, inam printing press mardan, 1980, makhona 14, 43

4 Zahid, abd ul Rauf, hades, inam printing press mardan, 1990, makhona 23, 93, 95, 101

5 Zahid, abd ul Rauf, etbar, pakhtoonkhwa chap zai, july 2004, makhona, 15, 22, 29, 61

6 Zahid abd ul Rauf, qyamatona di lamhe, enam printing press mardan, 1992, makhona 72, 92

7 Zahid and ul Rauf, zeray, diamond press, January 2015, makhona 38, 143, 14